آصف بهاند ۲۰۱۶/۰۶/۱۳

# د رڼا مرګ

مرګ دی چې ګرځي

سترګې سرې او لور په لاس

بیا یې کروندې ته سترګې واوښتې

بیا زموږ تنکي فصل ته ورسید

بیا یې په ډیر قهر خیره واوښته

غاړې غوځوي د غوړیدلو شنو فصلونو بیا

تنده ماتوي په غوځو لو بس

لوږه راولي په تش ریبلو بس

هر خوا ته ګلان او شنیلي ژاړي چې

بیا په سپینه ورځ د رڼا مرګ راغی

۲۰۱۱/۰۲/۰۱

هیدرسلیف

ډانمارک


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ